# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ليکونکی : محمدسعيد سعيدی

۲۱ فبروری ۲۰۱۵

# سوله او جنګ

کله چې دامريکی بی دوه پنځوس الوتکو په افغانستان دطالبانو په حکومت باندی بريدونه کول ملاعمر ته ويل شوی وو چې دتاسو اوداسلام دبرياليتوب له پاره خدای لس زره ملايیکی راليږلی دی خپل موقف دې کلک کړه همدا وو چې ملاعمرنه بی بی سی راډيو پوښتنه وکړه که امريکا راشی نو تاسو به څه کوی هغه په جواب کې ورته ويلي وو چې موږ به خپل کارکوو اودوی به خپل کارکوی نوددوی کارخو معلوم شو چې موقته اداره بيا انتقالی اداره اووروسته انتخابی اداره رامنځ ته کړه خو ملاعمر کار داشو چې پاکستان په کومه پټه سمڅه کې ننوت اوددغه حکومت په مقابل کې جګړی ته ادامه ورکړه چې دپاکستان حکومت په ملاتړ يې په افغانستان کې جګړه کوله اوهغه څه يې وکړل چې تاريخ يې په ليکنو شرميږی

په ۲۰۰۴کال را په ديخوا طالبانو کوښښ وکړ چې څرنګه امريکايانو سره اړيکی ټينګی کړی اوله کرزی څخه دوی ورته نږدی شي چې دغه خبره ملامعتصم اغاجان دطلوع تلويزون سره په يوه مرکه کې وکړه چې موږ هم کوښښ کاوه چې امريکايانو سره نږدی اړيکی ولرو اوله کرزی حکومت څخه ورته نږدی شو اوکرزی هم کوښښ کوه .بالاخره په دې وتوانيدو چې په قطر کې مو دفترخلاص کړ .

ښاغليو له مقدمی نه نوره تيريږم اساسی مسلی ته راګرځم دقطر دفتر دامريکا سره خبری پيل کړی اوپه مياشت کې دننه به دافغانستان له حکومت سره هم خبری پيل کړی کوم طالبان چې په کابل کې دافغانستان دحکومت په بوديجه ژوند کوی اودلته اوسيږی ددوی رول په سوله کې بې مانادی شتون يې بې رونقه دی هسی دملت وينی وربانْدی خوری بايد دغه حکومت نوای کړی خو کوی اوکوم طالبان چې په قطر کې دفترخلاصه کړی هغه دجنګی طالبانو سياسی اشخاص ځانونه بولی  چې جنګی طالبان ورته معتقد نه دی اونه يې منی دوی ته تيارخواړه وای نو يوازی په جګړه کې دخيل طالبان ددوی نظامی اشخاص دی که په دوی باندی پاکستان خپل کومکونه اودروی لکه څرنګه چې ددوی له خبرو ښه معلوميږی اوداځل يو څه رښتونی هم دی نودوی بيا هيځ نشی کولی نو افغانستان حکومت په مقابل کې بيا هيځ نه دی نو دسولی په خبروباندی وخت تيرول دوخت ضياع دی اوپه جنګی طالبانو کې ځينی خو خپلی چاړی په اوبو کې وينی هغه دحکومت سره نه يوځای کيږی او هغه به داسلامی حکومت سره ملګرتيا کوی لکه عبدالروف خادم چې څه موده وړاندی ووژل شوو يا خراسانی اوهمداسی نور نو ملاعمر دخبری سره سم چې موږ به خپل کارکوو اوامريکايان خپل نو دغه دې اخر يې سولی ته پاکستان

مجبورکړ ځکه چې پاکستان نورکومکونه ورسره نه کوی اودادې پاکستان اخلاص دی چې دسولی خبروته یې وړاندی کړی اوسوله یې ورباندی منلی دی نو که چیری دوی په رښتیا سره اسلام له پاره جکړه کوی نو دغه دیارلس کاله یې ولی مظلوم انسانان په شهادت ورسول دهغوی شهیدانو پوښتنه به څوک کوی ؟ دهغو کونډو یتمانو احوال به څوک اخلی ؟ ملاعمر خو به له کومی پټی شوی سمځی نه راووځي اواشرف غنی به ورته چوکی ورکړی نو دغو غریبو ته به ه جواب وایی ؟ ددې مظلوم ملت جواب ګوی بیا څوک دی ؟